وهمچنان شمارااامت وسطي ساختیم
تابرمردم گواه باشید وپیامبر(ص) برشماگواه باشد

(۸) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

قواي ملیشه قصدحمله برولایت کندزرا دارد

بگزارش یك منبع موثق جهادي ازولایت باستاني کندزنیروهاي مسلح رشیددوستم، کیان ودیگرگروه هاي خائن ووابسته به ملیشه ها درنظردارند تادرین روزهادروقت مناسب بالاي شهرکندزحمله نمایند قراراین گزارش شهریان کندزازترس اینکه مباداجنگ درین ولایت دربگیرد سخت درهراس اند ازسوي دیگرشوراي جهادي ولایت کندز که متشکل ازهفت تنظیم مي باشد فیصله نموده است که جلوهرگونه حملات دشمن راخواهندگرفت ونخواهندگذاشت که باردیگرنیروهاي کمونست وملحد بالاي مردم آزادهٔ کندزحکومت کنندبنابرآن تمام مجاهدین تنظیم هاي جهادي این ولایت آماده گي لازم حربي راگرفته اند .

ملل متحد ازدرخواست ادارهٔ ائتلافي کابل مبني برنظارت ازتشکیل لویه جرگه باگرمجوشي استقبال کرد

۱۲ میزان :

سوتریست موسورئیس فرستاده ویژه سازمان ملل متحد به افغانستان گفته است : سازمان ملل متحد ازهردرخواست دولت کابل براي نظارت برتشکیل مجمع ملي موسوم به شوراي حل وعقد پاسخ مثبت خواهد داد . اندکي پیش ازاین سخنان موسوریس رادیو کابل اعلان کردکه رباني رئیس ادارهٔ ائتلافي کابل تصمیم گرفته است ازسازمان ملل متحد وسازمان کنفرانس اسلامي براي مشارکت درتشکیل مجمع ملي دعوت بعمل آورد . رادیوکابل گفت : دولت کابل امیدواراست این مجمع رادردوماه آینده تشکیل دهد. دوران ریاست موقت رباني درآخرماه جاري به پایان مي رسد .

شماره مسلسل (٥٤٣) سال پانزدهم ،شماره (۸۹) سه شنبه (۱٤)میزان ۱۳۷۱ هـ .ش- (۹)ربیع الثاني ۱٤۱۳ هـ.ق- (٦) اکتوبر ۱۹۹۲م

بیه: په پاکستان کي یوه روپی
په افغانستان کي (۳۰) افغانی

نیروهای ادارهٔ ائتلافی درولایات هرات ، بغلان وکاپیسا برمواضع مجاهدین حزب اسلامی حمله نمودند

انا- ۱۳ میزان :

خبرگزاري انا ازجریان جنگ هاي شدیدبین مجاهدین حزب اسلامي وقواي ادارهٔ ائتلافي درولایات هرات ، کاپیسا وبغلان به اداره شهادت گزارش داده مي نویسد: که چهارروز است جنگ هاي شدید بین مجاهدین حزب اسلامي ونیروهاي ائتلافي جمعیت وبقایاي رژیم کمونست درهرات کماکان جریان دارد. طبق گزارش نیروهاي جمعیت به اشتراك ملیشه هاي رژیم کمونست برمجاهدین حزب اسلامی حمله نموده اند ، ولي تاهنوزازنتایج اخیرجنگ اطلاعي دردست نیست . طبق گزارش هیئتي ازقندهاربه خاطرمیانجي گريٌ جناح هاي درگیر روانه هرات شده است .

هکذا ملیشه هاي دوستم ،سیدکیان وشوراي نظار به حملات وحشیانه بالاي مجاهدین حزب درلرخواب ولایت بغلان دست زدندکه لله الحمد مجاهدین آنجاتحت فرمان دهي برادرنهضت یاروصوفي پاینده محمد به حملات مهاجمین پاسخ دندان شکن داده چندین پوسته حفاظتي قواي ائتلافي رادرامتداد شاهراه خنجان ، سالنگ تسخیرنمودند .

وهم چنان درولایت پروان کاپیسا ،مرکزفرماندهي استادعبدالصبورفرید صدراعظم حکومت انتقالي، تفنگداران شوراي نظاربه اشتراك ملیشه هاي کیاني ودوستم بالاي مواضع حزب اسلامي حملات وحشیانه اي را براه انداخته اندولي مجاهدین باتوان مندي کامل تعرضات ایشان را خنثي نمودند ، جنگ درساحات متذکره هم چنان ادامه دارد .

###

سودان احتجاجاازسازمان کنفرانس کشورهای اسلامی خارج گردید

خرطوم :

سودان گفته است بعدازآنکه سکرتریت سازمان کنفرانس اسلامي فیصله رامبني برتشکیل دورآینده کنفرانس وزراي خارجه ممالك اسلامي به جاي خرطوم درپاکستان صادرنمود، عضویت اش رابه تعلیق درآورده است .

روزنامه دولتي سودان به نقل ازوزیرخارجه آنکشور خبرمیدهد درصورت که قیادت سازمان کنفرانس اسلامي درین مورد تجدیدنظرننماید، سودان ازاشتراك درتمام اجلاس این سازمان اباخواهدورزید. به اساس گزارش این فیصله نمایانگر بروزاختلافات بین سودان وعربستان سعودي است .

حکومت ائتلافي کابل براي اخراج ملیشه ها ازشهرکابل باحزب اسلامی به توافق رسید

تلویزیون بي بي سي ٥ اکتوبر :

تلویزیون بي بي سي شام دوشنبه دربخش اخبارجهان خود خبرداد که حکومت کابل اعلام نموده که براي اخراج تمام قواي ملیشه تا۱۱ اکتوبر باحزب اسلامي بموافقه رسیده است .

همین خبرشب روزیکشنبه دربخش اخباردري رادیوتهران نیز پخش گردید. سه روزپیش هیئت صلح ننگرهاربنابراصراررباني ومسعود ازبرادرحکمتیار تقاضانمودندکه میعادآتش بس راتاروز یکشنبه ۱۹ میزان تمدیدنمایدتاحکومت بتواند درین مدت کاراخراج ملیشه هاراتکمیل نماید.

براي کسب موافقه حزب اسلامي درین رابطه هیئت سه نفري مرکب ازاستادسیاف ، مولوي محمدنبي محمدي وسیدنورالله عماد توظیف شدتاباحکمتیار ملاقات نماید . هیئت روزیکشنبه براي سه ساعت باامیرحزب اسلامي درچهارآسیاب مذاکره نموده ولي هنوزاعلامیه اي رسمي ازجانب حزب اسلامي درین رابطه منتشرنگردیده است .

مولوي محمدنبي محمدي واستادسیاف وظیفه گرفته بودند که مواد معاهده پغمان میان حکمتیارورباني رابمرحله اجراگذاشته ازجریان آن نظارت نمایند.

دپیښورمعاهده دمجاهدینو پر خلاف سازش وٌ

محمدامین وقاد

نواي وقت - ٤ اکتوبر :

دافغانستان ددعیه اتحاد اسلامي مشرقاضي محمدامین وقاد وایي چي دپیښورترون دمجاهدینوپرخلاف یوسازش وٌ .

اودکابل دحکومت اوسني واکداران په کابل کي دحکومت کولو اهلیت اوکفایت نه لري ځکه خلك دسازش په نتیجه کي ځان اقتدارته رسول غواړي ، لیکن مجاهدین نه غواړي چي دکابل دپخواني رژیم له گوډاگیانو سره په گډحکومت کي ځان شریك کړي ددعیه اتحاداسلامي مشردغه وینادننگرهار ولایت دبټي کوټ په کلي کي یوې پرتمیني غونډي ته کوله . هغه وویل دتولو سیمو خلکوپه وسله وال جهادکي برخه اخیستي ده . دازموږ اسلامي اوقومي فریضه ده چي داسلامي اصولو دعدل اوانصاف پربنایونظام اوحکومت جوړکړو. اوهیچاته ددي اجازه ورنکړوچي هغوي په ژبني ، مذهبي اوقومي تعصباتو

دافغانستان ملي اوبین المللي تشخص ختم کړي هغه پخپلو خبروکي زیاته کړه چي دمجاهدینو مشران باید پخپلوکي سره یوموټي شي اودایي هم وویل چي دافغانستان ټول وسایل دافغان عوامو امانت دي که څوك له دي امانت څخه ناجایزه استفاده کوي هغه دگناه مرتکب کیږي .

امریکادرصددسبوتاژکردن ثمرات جهاد افغانستان است

قاضی حسین احمد

روزنامه جنگ - ۱۳ میزان :

قاضي حسین احمد رهبرجماعت اسلامي پاکستان طي خطابه درچهارصده پشاورامریکارادشمن بزرگ جهان اسلام قلمداد نموده گفته است که امریکابه خاطرسبوتاژکردن ثمرهٔ جهادبرحق ملت مسلمان افغانستان درتلاش است . قاضي حسین احمد افزوده است که مردم بي گناه افغان بدست کثیف ملیشه هاي جاني به خاك وخون کشانیده شدندولي سفرجنرال دوستم درپاکستان یك امر عجیب است امیرجماعت اسلامي سفرجنرال رشیددوستم رابه پاکستان دسیسه امریکاخوانده گفت قطعاً جوازنداردکه قوماندان وجنرالان کمونست درشوراي قیادي شامل شوند ، قاضي حسین احمدگفت نه تنها امریکادرامور داخلي افغانستان مداخلت مي نماید بلکه سرپرستي اسرائیل رادرکشتارفلسطیني هاي بي چاره نیزعهده داراست .

مولوی خالص له حکومت څخه نه دی وتلی

تراوسه په ملك کی امنیت نه دی راغلی اوزیاتی ورانی ویجاړی موجودی دی

دمولوي صاحب خالص مرستیال حاجي دین محمد دروانوحالاتو اودخپل امیر مولوي خالص دقیادي شورا څخه دوتلو په باب له امریکا غږ رادیوسره په مرکه کي وویل :

اول خوداخبره ده چي خالص صاحب د حکومت څخه ندي وتلي هغه تنها خپل عضویت په قیادي شوراکي دځه وخت لپاره ځندولي دي اود حکومت څخه نه دي وتلي نو له دي امله ماچي هلته په کابل کي کوم وزارت قبول کړي دي هغه هم دمولوي صاحب خالص اودخپل تنظیم دپریکړي پر اساس دي . او که چیري خالص صاحب اوزموږ تنظیم فیصله وکړي چي موږ له حکومت څخه ووزونوبه هغه صورت کي که داوزارت وي اوياله وزارت نه غټه چوکي وي انشا ءالله موږبه هغه پریږدو.

حاجی دین محمد

نوموړي دمعارف دوضعي په باب خپل نظر داسي څرگند کړ داخویوه یقیني خبره ده چي په یوه ملك کي اول هلته دامنیت راوستل دنظام دقیام لپاره ضروري دي نوځکه اول خوباید داکوښښ وشي چي په ملك کي امنیت راوستل شي اوهرکله چي امنیت راغي نوبیا به دمعارف اونورکارونه په ښه توگه مخ په وړاندي ځي خوددي تولو سره چي تراوسه امنیت هم ندي قائم شوي اوزیاتي ورانی اوویجاړي موجودي دي سره له دي هم پدي وران ویجاړ حالت کي موږ کوښښ کوو چي دنوروکارونو ترڅنگ ترڅو چي ممکن وي دامنیت او دوزارت معارف کارونه هم په مخ باندي بوځو.

ده داستاد رباني دقدرت دپرېښودو په باب پخپل معین

(۷)مخ

مقامات الجزایر براي مبارزه با خشونت ،قوانین جدیدي وضع کرد

الجزیره - ۱۲ میزان :

مقامات الجزایر درباره قوانین امنیتي جدید براي مقابله باخشونت هایي که ازاوایل سال جاري آنکشوررا دربرگرفته است جزئیات جدیدي فاش کرده اند. طبق این قوانین براي محاکمه متهمان به اعمال تروریستي وخرابکاري سه نوع محکمه ویژه بوجود خواهد آمد. این دادگاه هاحق خواهند داشت تامتهمان راازپنجسال زندان تااعدام محکوم کنند، سن بلوغ نیزبراي مشمولان اینگونه مجازات ها ازهجده سال به شانزده سال تقلیل داده شده است .

صدام حسین دخپلو مخالفینو دلیری کولو په لړکی ۳۰ تنه عالی رتبه صاحب منصبان اعدام کړی دی

په بغدادکي دیپلوماتیکي منابع وایي چي دعراق مشرصدام حسین دیوځ نه دخپلومخالفینودلیري کولو په لړکي تیره میاشت ۳۰ تنه عالي رتبه پوځي صاحب منصبان اعدام کړي دي .

داسو . شتیدیدپرس خبري آژانس ددغومنابعوله قوله وایي چي په نوموړو کسانوکي شایدیوهم دعراق اوایران دجنگ یوقهرمان هم اعدام شوي وي ویل کیږي چي دخلیج په جنگ کي دعراق دماتي نه وروسته به دهغه هیوادډیرپوځي صاحب منصبان اعدام شوي وي .

بخاطر آغازسال تعلیمی جدید ،محفلی درمحوطه ریاست سیاسی تدویرگردید

پشاور :

قراربودکه سال جدیدتعلیمي کمافي السابق در۱٥ سنبله آغازگردیده واولادهاي مظلوم مهاجرین درکمپ هاي سوزان دیارهجرت درس وتعلیم خویش راازسرمیگرفتند . اماباکمال تاثروتاسف نسبت عدم موجودیت امکانات ومشکلات شدید مالي ریاست تعلیم وتربیه نتوانست برنامه تعلیمي خودراعملي سازد وبه تعویق افتید. بنا بخاطراز سرگرفتن این پروگرام یوم جمعه ۱۰ میزان محفلي به اشتراك یکتعداد ازتاجران مسلمان ومتعهد درریاست سیاسي حزب اسلامي افغانستان انعقادیافت.

محفل ساعت ٤ بجه بعدازظهر باتلاوت آیات چندازکلام الله مجید آغاز ومتعاقباً برادرقاضي محمودالحسن "جاهد" رئیس تعلیم وتربیه صحبت مختصرنموده ودرروشنائي آیات متبرکه قرآني وارشادات نبوي (ص) ارزش واهمیت

ص(۷)



له حزب اسلامي سره دامریکایي ښکیلاك څرگنده دښمني

که نړیوال سیاسي بهیرته وکتل شي، نوڅرگندیږي ، چي هرسیاسي اوپوځي یون یي داسلامي نړي پرضد یواقدام دي، اوله دي پورته کومه هیله تري نشي کیدلي. په بوسنیاکي نسلي تطهیر روان دي، اوله مسلمانانونه دغه هیوادپاکوي، امریکادکویت دانتقام په پلمي دعراق اسلامي هیوادتراوسه ځوروي ، همدااوس یي په نړیوالوبانکونوکي دعراق گرده شتمني ضبط کړه ، خوچاتري ونه پوښتل، چي داقدم دعراق دولس پرضد اخیستل کیږي، اوکه دحکومت فرضاً پرکویت دتیري مرتکب که دعراق حکومت وگڼو، نودغه شتمني خوملي حیثیت لري، اوباید داسي ظالمانه سلوك ورسره ونشي . همدارنگه امریکادبهودوپه مشري پدي لته کي ده ، چي داسلامي نړي پریدن بي شمیره زخمونه کیږدي، خلیج ته دامریکاله ورتلو وروسته دادي گورو، چي شیطاني حرکات ورو، ورو گرندي کیږي ، اونږدي ده ، چي خبره اسلامي مرکزسعودي عربستان ته ورسیږي ، دعربستان اویمن ترمنځ دپولوشخړي اووسله وال تصادمات همدارنگه دفرات داوبوپرسردځینواسلامي هیوادونولانجه اودایران دځو تاپوگانودعوه ددي لړي دکړي حیثیت لري، اوپدي توگه یهودپالي امریکاغواړي ،اسلامي نړي پراقتصادي کمزوري سربیره دخپلمنځي جگړوپه یم اخته کړي. اوپدي توگه دمسلمانانودنړیوال مرکزیت او اسلامي تشخص هغه ناره په مرگ ویده کړي، چي اسلامي تحریکونوپخپلي ځواني وینې دنړي گوټ گوټ ته زمزمه کړیده . دروس دشکست تجربي وښودله ، چي امریکاتش دکمونیزم مرکزیت له منځه وړ، بس همدومره دلچسپي یي لرله ، ځکه په منځني آسیاکي گورو، چي امریکادکمونستانوترشاولاړه ده ، اوپه افغانستان کي هم همدغه تعامل جریان لري. دافغانانوداسلامي برخلیك داړولولپاره چي دامریکاپه سردمداري کوم زیارونه وگالل شول، داله هیچانه پټ ندي. دیوي لویي او په تاریخ کي دساري نه لرونکي قرباني وروسته چي پرمسلمان هیوادکوم نامسلمانه ایتلاف مسلط شو، دادهمدغو امریکایي عزایمونتیجه ده . خوموږ ولیدل، چي دلوي خداي (ج) په فضل اودحزب اسلامي په نوښتونویوه کافرانه دسیسه هم پلي کیدلوته پرینښودل شوه ، اواوس چي په کابل کي دکمونیزم مورال

(۷)مخ

سخن روز

کومه وعده دي مادروغ گڼلي
کومه وعده دي په رښتیاکړي ده

محمدآصف صمیم

پاکستان ته دپروفیسرربانی له راتگ نه یوه اونۍ مخکي دننگرهاردسولي جرگي هیوادوالواونړیوالوته وویل چي موږته استاذښه په ټینگه ویلي دي چي مخي سه شنبي (دستمبردیرشمه) پرماښام (همغه وخت چي دي دایران له سفرنه راستنیده) به یوښه زیري واوروئ .

دغه زیري همغه وخت هم اواوس هم ملت ته له کابل نه دگلم جموملیشاوو له وتوپاایستو(!) پرته بله خبره نه شوه کیداي : ځکه داوخت ملت ځوارلسوکلنو قربانیواوستومانیوتریله هروخت زیات په سولي اوکراري که ژوندتیرولوته اړکړي دي اوداهیله له کابل نه دهمدغوجانیانودوترپه صورت کي ترسره کیداي شي .

دخاوري اواولس خواخوږیواوملیشادښمنوځواکونواوسیاسي کتونکیوته هم هغه وخت دښودلي نیتي بیابیااوږدول دواوخبره نه ښکاره کیده اواندېښمن ووچي په دي وعدوسره ائتلافي اسلامي دولت ملت او خصوصاً مخامخ لوري ته غربت ورکول غواړي، چي دوروستیو نیتوبیابیابدلون هغه اندېښني داوخت بیخي پرځاي ثابتي کړي. سه شنبه پرپنجشنبه واوښته ، پنجشنبه یکشنبه شوه ، یکشنبهٔ پربله یکشنبه بدله شوه اومخي ته دي لا خیروي. په دي حساب دننگرهارله سولي جرگي سره پریښودلي نیتي دري اونۍ تیري شوي .

په ښکاره خودنیتوغځوونکي اوبدلوونکي لوري خپل خبریه دي کي گڼلي دي چي همدادښودلیو نیتوته دانتظارموده هم پرگډې یې غمه کیناستل غنیمت دي. خودي ته یې پام نه دي چي نیتي اوږدول اوبیابیاژمني زموږدرواني کشالي اواري نه دي، بلکي داکاړپرنیتودپابیدونکي مشرتابه داعتمادجرړي له بیخه غوځوي. په دي لړکي داسلامي دولت پرواکمنو باندي دملي اعتماد دله منځه تلو ستردلیل دادي چي اولس اونړیوالوته دملیشاپي اوکمونستي جنرالانوپرېښودولاړدولت پوځي اوسیاسي ځواك دلمړیه شان ښکاره دي، اوداورته جوته ده چي دولت په څومره اوبوکي دي؟ یعني داورته جوته شوي ده چي که زموږدغه څلورمیاشتني ، دولت دملیشاووپرځاي په اولس اوداولس په زړونوکي ځاي اوجرړي درلوداي ، نودخاوري ، دین اواولس له دغه دښمن ټولي سره به یې دسیاسي واك په گټلوکي لاس نه یوکاوه اوچي یې بیایوکړ، نو بیا به یې په واك کي دگډون دترون پروخت پرځان دومره نه سوروول، چي اوس یې دکوزولو په روگودرنه پوهیږي اوچي بیایې سواره کړل، نوبیاداولس اونړیوالوپه سترگوکي داخاوري اچول څه معني لري، چي : دااولس هغه پخواني ملیشانه ده چي دمجاهدینوپه وژلو اوراپرځولوپي ټترنه سرپده ، دوي اوس داسلامي پوځ اواردوپوته بیلېدونکي توکي (عنصر) دي .

داخوهمدغوعزت جمواوناموس دښمنوملیشاووته داستاذاو دهغه دنازولي شاگردداپي خرته خوشامندي اوجگجگي وي. چي اوس ددغوناموس جمو جاني مشر هم په بې شرمي سره دعوي کوي ، چي موږته به نورڅوك نه ملیشاواي اونه کمونست اوگلم جمع، ځکه که موږملیشاواي، نوله استاذرباني سره به مودوفاداري حلف نه کاوه اوداستاذاودهغه دنازولي شاگردپه واکمنولوکي به مومرسته نه کولاي که موږکمونستان واي ، نونجیب الله به مونه راتسکوراوه .

حقه خبره خوداده چي له یوي خواسړي ته ددومره احسانونو دمننې اوشکران پورپرغاړه شي، له بلي خوا داولس اراووته دمراجعي له نتایجونه داندېښني خبره په منځ کي وي اوله بلي خواد سړي په وینه دږېنيی اونژادي تبعیضونه هم گډشوي وي اودهغو پالنه یې دسیاسي ژوندانه مقصدوي، نوبیاخوبي څوك په دي وینانه شي گرمولاي ، چي دوینې خوري ملیشي دمخروني لپاره روابي چي ملیشي ته اوس باید څوك ملیشاځکه ونه وایي، چي دوي اوس داولس په دښمني کي یواځي نه دي بلکي زموږدټولي ملیشه وروروليی اهداف اواغراض سره گډ دي، دااهداف دځوارلس کلن جهادتر مقدس نامه لاندي وي اوکه له ملیشاپي کمونیستي جنرالانوسره دائتلاف په بڼه .

خبره مودملیشاووپه ایستوکي دوعدواودنیتودبدلون اوغځولو کوله ، چي آیا داومره وعدي چاته گټوري دي، استاذته اوکه ملت ته؟

که داستاذداخیال وي چي دسیاسي ځواك په خونداو خوږلي خوزه ایله اوس پوه شوم ، چي له څلورونه مې دري میاشتي یې تیري شوي اوایله یوڅودشمیرشپې پاتي دي نوکه په دي پاتي یوه میاشت کي زه خپله هغه محسنه قوادوتلوپه التجاء قدري خپه کړم ، نوداځکه ورکارنه دي، چي ددوي له نوراحسان پرته خوزه بیاداارمان اوهیله هم نه شم لرلي چي دحضرت صاحب غوندي ووایم چي داولس ۹۹ فیصده وگړي زمادبیابیا مشرتابه ټینگاراوملاتړکوي .

خوکه دوعدوله غځولونه داستادمرادداوي چي څه په وعدوپه دسولي دجرگي هم درناوي وشي ، ملیشه دښمنه خوابه هم په (خپل گومان) راضي وساتم اوپه واك کي په پاتي کیدو ، په هره بڼه چي وي سره به دواك اوږدیدني ارمان هم ووځي .

استاذخواستاذ دی، عالم دي خداي دي یې عامل هم کا ، داستشاري اواستفتاء مرجع هم دي، دوي ته خووراندیزاومشوره هسي ځانښودنه ده ، خوبیا هم ورته ددي خپل مجاهدملت دیوه خوږمن غړي په توگه په درناوي دومره وایوچي :

دملت ددوستيی ادعادملت له دښمنانوسره ددوستي په ټینگښت نشي رښتیاکیداي ، که همداحقیقت مني، نوله دي ته څه جوړیږي چي :

کله دسیاوعده ، کله دبیگاوعده
خاوري په وعدوباندي اړوي رااړوي

ذبیح الله قریشي

مشکلات فعلي ماناشي ازمداخلات اجانب است

قراراطلاع ازبنگاه هاي خبري ، دولت ائتلافي کابل خواهان یك هفته تمدید آتش بس باحزب اسلامي افغانستان گردید که به اساس بیان انجنیر (محمود) معاون هیئت صلح ننگرهار با " انا" استاد رباني ومسعود حاضر شده اندکه تاتاریخ ۱۹میزان کار اخراج ملیشاها راازکابل تکمیل نمایند، وهمچنان رژیم هیئتي راباشمول مولوي محمد نبي محمدي ، استاد سیاف وسیدنورالله عماد قراربود بروز یکشنبه غرض ملاقات باامیرحزب اسلامي افغانستان برادر حکمتیار بفرستندتا توافق حزب رادرین راستا حاصل دارند.

این موضوع درحالي بوقوع مي پیوندد که امیر حزب اسلامي افغانستان ازهیئت صلح روز سه شنبه درکنفرانس مطبوعاتي منعقده خواست تاتکلیف حزب رادراین راستا روشن نموده قرارخویش را الي روز ۵ شنبه تاریخ ۷ میزان اعلان دارد ولي هیئت بعد ازتماس با جانب جمعیت ازحزب اسلامي خواست تا روز یکشنبه ۱۲ میزان انتظار بکشد . قبل ازآنکه کدام اقدام عملي درجهت تطبیق قرار داد پشاور ، بگرامي ، پغمان ومواد پیشنهاد به هیئت صلح ولایات شرقي کشور صورت گرفته باشد هیئت صلح ازحزب خواست تا تاریخ ۱۹ نیز از خود صبروشکیبایي قسمي که درگذشته نشان داده است، نشان بدهدوهرگاه آنچه رژیم به ایشان تعهد سپرده است عملي نه نماید اولین فیرراهیئت صلح شلیك خواهد نمود که این حرف هیئت از ابتدا ي پادرمیاني شان درقضیه بوده است عده یي ازصاحب نظران درامورکشور را نظر برآن است.

عامل مهمي که رژیم را برآن داشته است تا هربار مدت آتش بس راتمدید وبه هیئت صلح وعده جدید بدهد اظهار جانبداري هیئت در قضیه به پشتیباني جانب مظلوم است گرچه روشن نیست که هیئت درصحنه عملي چه اقدامي خواهد کرد که اظهار نظري درین مورد پیش از وقت است.

مگرآنچه تاآکنون مشاهده مي شود یکسره خلاف ورزي تعهدات مکرر معاهده پشاورتاپغمان ازجانب ائتلاف میباشد. درحالیکه قرار داد ها مبني برآن بوده است تا ملیشیاها خلع سلاح وازکابل خارج گردند ،افراد کمونیست از ادارات کشوري و لشکري طرد گردیده جاي آنرا مجاهدین اشغا ل نمایند. ارتش اسلامي ازتمام تنظیم هاي جهادي ساخته شود.

به فیصله هاي شوراي قیادي ومواد پیشنهادي هئیت صلح عمل صورت گیرد.

رژیم بمنظوراینکه بچشمان مردم مسلمان افغانستان وهیئت صلح پرده انداخته باشد جنرال رحیم وردك راتعین نمود ولي درعوض به تعداد ملیشیاها افزوده شده ،کمونیست هاي سرشناس علاوه از آنکه از دوایراداري ونظامي اخراج نه گردیدند تعداد ، دیگري از آنها به پست هاي مهم توظیف گردیدند .از جمله سرابي معاون نجیب رابحیث وزیرتجارت ،الله نظر ، یعقوب لعلي درپست هاي مهم کشوري وجنرال محمددوران ازکمونیست هاي سرشناس که دستانش تاآرنج به خون مردم مظلوم مان رنگ مي باشد ، بحیث قوماندان عمومي قواي هوایي تعیین گردیده هکذا درقرار داد پغمان فیصله بعمل آمده تا رژیم ائتلافي ازحملات برمیدان هوایي شیندند خو د داري نموده ،جنگ را به اطراف نه کشاند که متاسفانه در اثر خلاف رفتاري هاي جانب مقابل ، آتش جنگ در هرات نیز مشتعل گردید که حتي هواپیماهاي اجانب میدان شیندند را زیر آتش قرار داد . این اعمال خود دال به عدم صداقت جانب مقابل مي باشد.

باوجود این همه خلاف رفتاري هاي جانب مقابل ،حزب اسلامي تاکنون از خویشتنداري کارگرفته وهیئت صلح نیز فقط جانب دولت ائتلافي را باعدم رعایت ازمفاد آتش بس محکوم نموده است ولي تاآکنون رسماً قرار خویش را درین راستا صادر نه نموده که حزب انتظار آن را دارد.

گرچه ازناحیه عسکري تمدید مدت آتش بس به سور حزب اسلامي خوانده نمیشود .ولي آنچه مهم است نفوذ روز افزون حزب درین مردم وبرملاشدن حقانیت حزب اسلامي برهمگان مي باشد تابر هیچ مسلمان مجاهد حجتي باقي نماند که خودرا ازمعرکه خونین حق و باطل کنار داشته باشد.

باوجود تمدید مدت آتش بس جانب ائتلاف این راباید خوب بداند که نه حزب اسلامي از موقف اسلامي خویش مبني برعدم اشتراك درحکومت باکمونست ها پائین مي آید ونه با بقایاي رژیم درآینده سیاسي، نظامي واجتماعي کشورشریك مساعي مي داشته باشد.

ونه مجاهدین دلیر این حزب که پوزه ارتش تادندان مسلح کمونیزم را به خاك ذلت سایده اند خسته مي شوند و ازسنگر پایین میایند. بناءً باتمدید آتش بس موقتي ممکن نیست قضیه حل گردد ومشکل مردم رنج کشیده ماپایان یابد.

بهتراست برادران جمعیت به جاي پناه بردن به تمدید آتش بس وتغییروتبدیل شکلي افراد کمونیست وتدخل پاي اجانب درقضیه ، راه حل اصولي قضیه راجستجو بدارند که خلع سلاح نمودن واخراج ملیشیا ها ازکابل ،طردکمونیست ها ازادارات کشوري ولشکري وتفاهم باهمي وتعیین سرنوشت آینده کشور ازطریق انتخابات مي باشد.

اگرواقعاً جانب جمعیت به پایان دادن مشکلات افغانستان وخونریزي برادران شان علاقمند ومؤمن هستند ، بجاي آنکه از اجانب در قضیه مشوره صورت گیرد ودوستان چهارده ساله جهاد رنجیده خاطرگردند.

با برادران مجاهد خویش که یك عمر پهلوي هم در برابر دشمن جنگیده اند به میز مذاکره نشسته قضایا را از راه تفاهم حل نموده وبه تعهدات خویش عمل نمایند.

بیائید دروازه هاي کشور را بروي مداخله گران خارجي که منافع خویش را درتجزیه وتضعیف مامي خواهند ببندیم.

وخوددراین راستا همت بگماریم که مشکلات خویشرا خود بدون مداخله دیگران حل وفصل بداریم .

زیرا درین مدت تجربه نشان دادکه هیچکس از اجانب راضي نیست که حکومت نیرومندي در افغانستان استقرار یابد. ومردم افغانستان صاحب سرنوشت واستقلال خو د گردند.

######

په کابل کې دیومستحکم حکومت دجوړښت په خاطردښاغلي حکمتیار وړاندیزونه

استاذقریب الرحمن "سعید"

دافغانستان داسلامي حزب مشرانجنیرگلبدین حکمتیاردسه شنبي په ورځ دسپتمبر په (۲۹) مه دننگرهاردولایت په مرکز جلال آباد کي په یوه مطبوعاتي کانفرانس کي اعلان وکړچي داستاذ رباني د جمهوري ریاست دوخت پوره کیدوڅخه دمخه باید یوه داسي مؤقتي شورا جوړه شي چي په هغي کي دهري ولسوالي دوه دوه کسان (لمړي اودوهم کس)یعني ولسوال اوقوماندان چي هلته دولسوالي دشوراپه واسطه ټاکل شوي گډون وکړي اوپه دې ترتیب دغه مؤقته نیمه منتخبه اداره داستاذرباني دمیعاد دپوره کیدو دمخه یوموقت نظام جوړکړي.په دي نظام کي چي هرتنظیم باهرچا ترټولو زیاتي رائي لاسته راوړي . هماغه ته دي واك ورکړي شي چي حکومت جوړکړي ، ددي حکومت دجوړښت ترڅنگ ،څنگ دي سم دستي داسلامي تنظیمونو څخه دوه دوه کسه راټول اویوکمیسیون دي جوړکړي ترڅو داکمیسیون دانتخاباتو له پاره پروگرام جوړ اود شپږومیاشتوپه منځ کي انتخابات ترسره شي اوددي انتخاباتو له لاري یومظبوط اومستحکم حکومت په مرکزکې جوړ شي.

هغه اخطاروکړي چي په هیڅ صورت به داسي یوحکومت چي هغه دوسلي، توپ وټانك په زور واکمني ترلاسه کړي دیوي لحظي له پاره هم ونه زغمي.

رښتیاهم گران افغانستان چي نن دکوموکړاونواوستونزو سره مخامخ دي هغه دبرخي زیاتي او کړکیچني دي.ددي مجاهدولس قسم خوړلي دښمنان ټول په دي هڅه کي دي اوهاندکوي چي زموږ په گران هیوادکي دي یومضبوط مستحکم او مرکزي حکومت دجوړیدو نه مخنیوي وکړي.همدا علت دي چي دجهاد دبریالي کیدو او ۱٤ کاله ستونزواوکړاوگاللواودملت دریمي برخي دمهاجرکیدو اویونیم ملیون کسانو دشهادت ترڅنگ هم زموږ اولس دهغه څه خاوندنه شو چي دهغي خوب یې لیده ،دولس هغه ارمان چي دیواسلامي حکومت له پاره یې درلوده ترسره نه شو ، پوره پنځه میاشتي دپه اصطلاح داقتدارد انتقال تیري شوي خولاتراوسه په کابل کي نه امنیت راغي اونه افغان ولس دخپلي خوښي د ځواکمني اوولسواکي خاوندشو. ښکاره ده چي ددي ټول هرڅه عامل پردي لاسونه اودپردیو په لاسوتربیه شوي اجیرعناصردي .ددي ناولو عناصروترڅنگ دمجاهدینو ځیني داسي قیادتونه هم په عاقبت نه سنجوونکي توگه ولاړدي چي دهغوي (کمونستو عناصرو) موجودیت توجیه کوي اوهغوي ته دبرأت سندورکوي دگاونډیو هیوادو په شمول ټول استعماري ځواکونه هڅه کوي چي افغان ولس دیو اسلامي مرکزي قوي حکومت خاوند نه شي. نه یواځي داکاردافغانانوپه خلاف روان دي بلکه دافغانستان په شمال کي میشته هیوادونه لکه تاجکستان ،ازبکستان اونورو کي هم په همدي توگه لاس وهني رواني دي. نه غواړي هلته هم خلك دخپلو ارادو په مطابق خپل راتلونکي جوړه کړي دامریکا استعماري ځواك چي نن په نړۍ کي دستر بدمعاش په توگه هري لوري ته سترگي برگوي ددي ټولو لاس وهنو ترشاکلك ولاړدي هغوي چي تړپرونه پوري یې دروسي سوسیال امپریالیزم په خلاف په وروسته پاته هیوادوکي دآزادي غوښتونکي غورځنگونوملاتړکاوه ، نن یوځل بیا دکمونیزم دبقایاو ترشاولاړ دي ترڅو اسلامي غورځنگونه دکامیابي اوبریالیتوب درشل ته ونه رسیږي . په تاجکستان کي همدا اوس دپخواني کمونست گوند اجیران چي دتاجکستان دمعزول جمهور رئیس نبي اوف په خاطر دتاجکستان دمسلمان ولس په خلاف جنگیږي په امریکا یې وسلو سمبال دي اوداخبره دتاجکستان دولس یومسلمان شخصیت دلندن دنشراتي اوتبلیغاتي دستگاه بي بي سي سره په یوه مرکه یې اعلان کړه هغه په څرگندو الفاظوکي وویل چي هغه کمونست پوځیان چي تراوسه پوري نیول شوي هغوي ټول په امریکایي وسلو سمبال دي . داسي وسلي چي تراوسه پوري په روسیه کي نه جوړي شوي اونه ورسره روسي پوځ اشنایي لري . امریکا ښان دخپلواستعماري گټو دساتلو په غرض غواړي اوس دروسي استعمار دپاي ته رسیدو وروسته خپلي گټي دکمونستانو په واسطه خوندي وساتي په همدي اساس غواړي په ټولو اسلامي هیوادونوکي داسلامي تحریکونو قدرت ته درسیدو دمخنیوي په خاطر هلته کمونستي لوبدلي اوبي کاره تنظیمونه بیا فعال کړي اوپه هغوي دبرزیات او بي حده مصارف کوي. په تاجکستان اوازبکستان کي داسلام دبیا احیا په رویه په ترکیه کي دمسلمانانو دمنظم کیدو څخه دویري په خاطر هغوي دځیني نورو په اصطلاح له انقلابي هیوادونو څخه کاراخلي . اوپه دي ترتیب په افغانستان کي هم د یوه قوي اومرکزي حکومت جوړښت هم مرکزي اسیاکي اوهم په اروپایي هیوادوکي دخپلوگټودپاره ستر خطرگڼي اوبیا هغه اسلامي غورځنگ به څنگه هغه هضم کړي چي دهغي قوي متودروسي نه شکیدونکي سره امپراطوري چي دمیلیونوانسانانو دککرویو په هوارولو یې جوړښت موندلي ټوټي ټوټي کړه اودامریکا داستعماري ځواك په هکله اعلان کوي چي هغه به هم ان شاالله په ۵۲ هیوادوباندي تجزیه کیږي.

همداعلت دي چي اوس دافغانستان په خاوره کي یې دببرك کارمل اودهغي دکمونست گوند دبقایاو دبیاراژوندي کولو په خاطر د بدنامو ملیشو دتقویه کولو اودبلي خوا نه دمجاهدینو دقیادت دبدنامولو کاراوپلان ترلاس لاندي ونیوه . دافغانستان دمجاهد ولس له پاره یې چي په پوره شوق اوذوق سره دازادي داوازداوریدو سمدستي وروسته په زرگونو زرگونو دخپل گران وطن په لورروان وو اوان ترددي چي ځیني خلکوخپل مړي هم له ځانه سره دپاکستان دخاوري څخه انتقال کړل ، داسي یواستعماري پلان چي دمسخرونه ډك اودهرسالم عقل له پاره دخنداوړ وي جوړ اوپري ورویي تاپه ،ترڅو زمونږگټلي جنگ په شراوفساد بدل کړي ، اودملیشوکمونست ځواکونه دتل له پاره زموږ په سرونوباندي دخپلي توري سره یوځاي ولاړ وي . په داسي حال کي نه په کابل کي حکومت کیږي اونه یې څوك کولاي شي . که څوك یې کوي هم نوهغه به همداسي حکومت کوي لکه زموږ دي دوه سلفوچي وکړ. ځکه هریویې په خپل وخت کي دکمونستو ملیشو دځواکونو دپادشاه جنرال دوستم دلیدلو په خاطر مزارشریف ته حاضرشول.

که څه هم په کابل کي دپیښور د ۲٤ داپریل دترون له مخي باید ۲۸ داکتوبر پوري داهل حل وعقد یوه داسي شورا جوړه شي چي هغه دراتلونکي حکومت په هکله یو تصمیم ونیسي . اوبیا ددي ترون تائید دري ځله هم دقیادي شورا په غونډو کي اوهم د انجنیر حکمتیاراواستا درباني په غونډو کي شوي هم دي. اودهغي دکاردطریقي په هکله بحث هم پري شوي خو دپغمان په غونډه اوپه هغي کي دهغوي دوارو نه علاوه استادسیاف اومولوي محمدنبي محمدي هم حاضر وو یوځل بیا په دي خبره اتفاق وشو چي دپیښوردترون په شمول ټول ترونونه باید محترم وشمیرل شي او په هغي دعمل کولوهڅه اوهاند وشي. په دي ترونو کي داخبره هم شامله وه چي داهل حل وعقد دراغونډولو داسانتیاپه خاطر باید هري ولسوالي ته حق ورکړل شي چي دهغي ولسوالي شوراگاني دوه دوه کسان داهلیت په بنسټ انتخاب کړي او دي شوراي ته یې ورولیږي خو دانجنیرحکمتیار دااعلان په خپله دقدروړدي چي وائي " استاد رباني زماورور دي" هغه ورسره دهغي دقیادت په هکله کومه جگړه نلري اوتردي حده پوري مخته ځي اووایي چي که چیري استاد رباني ژمنه وکړي چي راتلونکوڅلورومیاشتوکي به انتخابات ترسره کوي .او دکمونستو ملیشو دایستلو اعلان به یې له خنده کو ي، کمونست واکداران به دترون له مخي یې له څنده دحکومت دچارو نه باسي اوبي واکه کوي به یې دکمونستو فوځونو عسکري تنظیم به منحل اعلانوي وسلي به بې تري اخلي . نوزه حاضریم چي دراتلونکو څلورومیاشتو له پاره هغه دجمهور رئیس په څیرومنم اونه تنها هغه دجمهور رئیس په توگه ومنم بلکه دپورتنیو شرائطو دعملي کولو وروسته به خپل ټول توان دافغانستان دحکومت سره په تعاون اوکومك کي مصرفوم.

دپغمان دترون چي ددوارو خوا څخه دهیڅ یو لاسلیك پري وجودنلري پلي کول داستاد سیاف او مولوي صاحب محمدنبي محمدي په غاړه وراچول شوي. اودوي دوارهم ژمنه کړي وه چي ژرترژره به غونډه کوي اودملیشو دایستلواوقدرت څخه به دکمونستانو دلري کولو اعلان کوي . خواوس داسي معلومیږي چي محترم استا دسیاف اومولوي محمدنبي محمدي په شاروان دي ځکه چي له یوي خوا جنرال دوستم اعلان کوي چي ترهغي چي دکابل دخلکو امنیت !! بې نه وي تامین کړي ترهغي به خپل یوعسکر هم دکابل څخه ونه باسي اوله بله پلوه دملیشو زیات شمیر دنظار دشورا ترنامه اولباس لاندي په کابل کي دیونیفورم په بدلون ځاي په ځاي شول. او اوس خو وزارت دفاع دقیادي شورا دپریکړو برعکس دایله چارو خلکواوځواناتو له پاره دپنځلس زره افغانیو په بدل کي دعسکري خدمت کولو وړاندیز کړي. چي ددي وړاندیزڅخه یې هدف هم دادي چي ځیني ملیشه وگړي تردي نامه لاند ي استخدام کړي اومجاهدین یوه بغل ته ووهي . حال داچي اسلامي اردو باید دمجاهدینو دځواکونو څخه جوړه شوي واي او هغه دقیادي شورا اودننگرهاردسولي دهیئت دپریکړي له مخي یوه کمیسیون جوړه کړ ي واي چي دټولو ولایتونو نمایندگان په کي گډون درلوداي .

دوام لري

حقايقي پيرامون تشكيل ادارهٔ ائتلافي كابل

پيام آزادي قسمت پنجم

وچندميل بعددرپوسته هاي ديگر، هزاره هادرجستجوي مجاهدين حكمتيارمي افتند :

هواداران ائتلاف ميتوانندكه جستجو كنندكه برنامه هاي سرويس خارجي بي بي سي وبخصوص دربخش فارسي واردوي آن درمورد بحران افغانستان چه گفتند وچه پخش نمودند. اين دشمن است كه مسئله قومي، مذهبي ولساني رادامن ميزندآنانيكه مخالف اندبايدبدانند كه حكمتيارازجنوب افغانستان نه بلكه باشنده ولسوالي امام صاحب ولايت كندزاست واحمدشاه مسعود راكه ازنگاه ايديولوژيكي هردوجانب دعواي عضويت وخدمت دريك مكتب ايديولوژيكي رادارند نام تاجك وپشتون ميدهند وياجنگ مجاهدين بامليشه هاي رشيددوستم وسيدكيان راجنگ پشتون باتاجك وازبك وغيره نام ميگذارند بي خبرازواقعيت هاي افكار۹۵ فيصد جامعه افغاني بوده ويامیخواهند عمداً مسايل افغانستان را به سود دشمن وارونه نشان دهند. جنگ بمقابل دوستم سكتريست هاوكارملي هانه ازخاطرآن است كه دوستم ازبك است ويابيرك كارمل پشتون وياكشتمند هزاره بلكه ازخاطرگنهكاري وجنايات شان درمقابل مردم افغانستان است ، درحقيقت نه رشيددوستم ادعاي نمايندگي قوم ازبك راكرده ميتواند ، نه ببرك كارمل ازپشتون ونه سلطانعلي كشتمندازقوم مستضعف هزاره . بلكه خصومت هاي موجوده زاده تلاش هاي است كه گروه هاي محدود تحت قومانده ودرتباني باافراد خاد، فركسيون ببرك كارمل ازطريق تخدعه ، زوروتزويروباتحسين خويش وتوهين ديگران ميخواهند نه تنها حقوق حزب اسلامي حكمتياربلكه حقوق تمام احزاب وگروه هاي سياسي واجتماعي ديگروافغانهاي مهاجرراغصب وانحصاروبالنتيجه حقوق تمام ملت را زيرپاگذارند ، آن ملتي كه چهارده سال غم كشيدگرسنه ماند، زندگي وهست وبودخود راواولادخودراازدست داد هنوزهم كدام روشني راندبده حالاهم سرنوشتش ازبيش مغشوش است ، مصداق سرمنشا اين واقعيت راميتوان ازمحتويات گزارش آتي الذكرخلاصتاً درك نمود.

درقسمتي ازگزارش تاريخي ۲۷ مي، ازآژانس فرانس پرس ميخوانيم كه اتحادبين مسعود يك رهبرافسانوي مجاهدين باقوتهاي مليشه همدست حكومت سابق سبب شدتاحكمتياربراي خروج آنهابه تعرض نظامي وسياسي متوصل شودوهم يك نشريه اسلامي درزبان انگليسي بنام كرستن هرالد دريك مقاله تاريخي (۱۵) ماه مي، خويش مي نويسدكه : رسانه هاي گروهي غرب هركاري كه ازدست شان آمدكردند ومي كنندتااحمدشاه مسعودرابيركاغذي ساخته ، حكمتيار رابادامن زدن فتنه هاي قومي خورد كنند. ازاينگونه مثالهاونمونه هافراوان دردست است .

درخاتمه :

افغانستان وطن واحد ومشترك تمام افغانها ست.پشتون تاجك ، هزاره ، ازبك وتركمن پنج انگشت يكدست اندومشت قوي اندباقطع هرانگشت، دست ناسالم ومشت واحد ضعيف ميگردد. كدام عوض بهتروياالترناتيف مساوي به افغانستان به هيچ قوم منطقه باگروه اين وطن موجود نيست لهذا خيروصلاح تمام جر دربقاوصلاح اين وطن مضمراست روشنفكران نبايد آتش فتنه هاي جاري را دامن بزنند ويابه آن تيل پاشي كنند. قلم روشنفكرنبايد درخدمت تحريك احساسات تعصبي و ازطريق سعي درپوشانيدن حقايق، وارونه نشان دادن قضاياوموجه نشان دادن بيعدالتي هاباشد. حمايت بي قيدوشرط ازحكومات ، رژيم هاوسيستم هاي كه بزور برچه وخلاف آرزوهاي مردم وملت مابوجود مي آيند وخودراتحميل ميكنندولوكه تحت هرنوع عنواني باشد گناه بزرگ به پيش مردم وپيشگاه پروردگاراست تسليم نمودن مقدرات خويش به اينوع حكومت ها درحقيقت حلقه بردگي به گردن خود انداختن است يك برده نه بدردخويش دواشده ميتواند ونه بدرد ديگران به حراقي، تزوير، تملق وعوامفريبي نميتوان هوادار كسي وياانقلابي بود. بياديابدداشت كه بدون استثنا اشخاص حراف، متملق ، مزور وعوام فريب درطول تاريخ عمالي بوده اندكه هميشه خنجري ازعقب زننده را هم بدست داشته اند، حراقي محض رامعيارصداقت وامانت نميتوان شناخت ويابه آن اعتماد نمود.

ازلابلاي حلقه هاي وابسته به ائتلاف سكتريستي چنين استنباط ميگرددكه اين گروه درحاليكه دم ازطرفداري اسلام، آزادي وحدت ملي ودموكراسي درافغانستان ميزنددرعمل ميخواهدنامشروع رامشروع توجيه كند وهمان كاري رابه انجام مي رساندكه دشمنان ما دربدست آوردن آن بااستعمال پول وحتي قدرت زيادي هم نميتوانند موفق شوند. ادعاهاي اين گروه مستند به كدام سندتاريخي نه بلكه محض عاريتي وتبليغي بوده كه تحت احساسات طفلانه ونفوذ بيگانگان درجهت اقناع عقده هاي كودكانه خويش براه انداخته اند. آنهائيكه دفاع نجيبانه ازآرمانهاي بزرگ ملي رادرسرمي پروراتندبايد سعي نمايندتااولتربه تزكيه نفوس خويش پرداخته وازتعصبات وتنگ نظري ها خودداري نمايند . تاريخ بي رحم است ومحاكمه آن اگرچه بعضاً ممكن بطي باشد ولي محتوم است . بهترخواهدبودبه تحقيقات وبررسي حوادث وعوامل آن هشيارانه ومجددانه پرداخت نميتوان به ياوه سرائي و جفندگوئي سياه راسفيدساخت ، روشني بعدازتاريكي مقتضاي طبيعت است ، هميكه شب ميگذرد وآفتاب روشن ميگرددتفريق سياه وسفيدباآن همراه است .نشودانسان خلاف امروجدان مرتكب عملي شود، چيزي رابگويد ويه چيزي دست بزند كه سبب سرافگندگي دايمي اش گردد بهترين راه بيرون رفتن ازاين پرتگاه ضداسلامي وضدمصالح ومنافع علياي ملي افغانستان ؛ اين خواهدبودكه افغانها درهرجاوهرمقامي كه باشند باخون سردي باهم بنشينند مشكلات وطن خويش را مطالعه ، تشخيص وبه حل آن باري رسانند، باقبول اين اصل هواداران ائتلاف نيزاگرخواسته باشند عوض اينكه به شكل خفاش دركوچه هاي تاريك باذهن هاي تاريك به پاي خود وملت خودتيشه بزنند، براي يك نشست همگاني افغانهازمينه راساعدگردانيده باهم گردآيندوراجع به حوادث جاري ومقدرات آينده وطن خويش تبادل نظرنمايند .

####

درشيد دوستم ملاتړ دازبكستان اوتركمنستان لخوا:

البدر دوهمه برخه

دگربچوف دتبصرويل ژورابح دادي چي سوسياليزم دپخواني شوروي اتحادپه سيمواوملكونوكي نه بوازي له منځه نه دي تللي بلكه دايډيالوژي اودخلكو دسياسي اواقتصادي اوكلتوري تگ لاره به په راتلونكو لسيزوكي بيرته راژوندي كيږي اودنړي دنويو بدلونونو سره به ځان عياروي اودولسونودپرگنوژوند به پري سمباليږي دگربچوف اوكمونيزم دنوروتيورستانو اومشرانوپه نظريه شوروي اتحاد كي ځكه په پخوانيو سوسياليستي بنيادونو كي بدلون راغي چي دپخواني شوروي اتحاد دمشرانو دغلطيو اوانحرافاتو په وجه شوروي اتحادپه اقتصادي لحاظ اودسياسي كړو وړوپه خاطردلويديزي پرمختللي نړي څخه وروسته پاتي شوي وه . اودخلكوځانگړي آزادي گاني تري سلبي اواخستل شوي وې. كله چي دانيمگړتياله منځه ولاړه شي نوخلك به داقتصادي ژوند دسمون دپاره بيرته سوسياليزم ته مخه كړي اوداحل به دسوسياليزم اعتبارنه بوازي په وروسته پاتي هيوادوكي بلكه په لويديزي پرمخ تللي نړي كي هم ټينگ اومضبوط شي .

كه چيري داپورتني تيوري اوسياسي تحليل اوڅيړنه دسوساليزم په برخه كي په نظركي ونيول شي اودپخواني شوروي اتحادكمونستومشرانوټينگارته چي دسوسياليزم دپاره بې لري پاملرنه وشي نوداخبره په ذهن كي راژوندي كيږي چي دروسيې مشران دهرسياسي نظام په لرلوسره چي وي دخپلوسياسي اواقتصادي اوپوځي نفوذڅخه دخپلوپخوانيو جمهوريتونوچي اوس دآزادي درشل ته ورنږدي شوي دي تيريدي نشي . دازبكستان اوتركمنستان دتش په نامه آزادشويو هيوادوددولت واگي اوس هم دكمونستانوپه لاس كي دي اوهغوي دننه پرخپلوهيوادواوپرخپلوكړو وړوكي دگاونډيو هيوادوسره هغه څه كوي چي دكمونستانودستراتيژي له مخي جوړاوتنظيم شوي وي .

دنويوخپرونو اواحصائيوله مخي په ازبكستان كي دمالوچودكروندي او كښت له پاره په زرگونوهكتاره زراعتي ځمكي پرتي دي چي دافغانستان دامودسين داوبوله بركته خړوبي كيږي او كوم مالوچ چي لاس ته راځي په بين المللي بازارونوكي دسپينوزروارزښت اوبيه لري . داهم ثابته شويده چي په ازبكستان كي دسروزرو اويورانيمو كانونه اوشتمني پيداشوي اودهغو څخه داقتصاداوتكنالوژي دبنسټ په ودي اوپراخولو كي هراړخيزي گټي اخستلي كيږي .

دتركمنستان دحكومت مشران همدااوس هم داوايي چي دوي به دكمونيزم دلياري څخه ونه گرزي اوپرهغي لاري به خپل ژوندسمبال اوسموركړي چي اوياكاله يې دمخه دكمونيزم داصولو اوبنيادونوسره غوره كړي وُ .

ددي واقعيتونوپه نظركي نيولو سره آياداكيداي شي چي دپخواني شوروي اتحادكمونست مشران دي دازبكستان او تركمنستان په سياسي چال چلنداوپريكړوكي لاس اونفوذونلري .

داچي دپرچم اوخلق خداي شرمولي او كرغيرن مشران ازبكستان اوتركمنستان ته پناه وړي اوهغه ملكونه يې دراتلونكي ژوند دپاره خوښ كړي دي ددي وجه داده چي له يوي خواهغه ځايونه دځان دپاره مصئون گڼي اوله بلي خوادحالاتواوسياسي بدلونونوسره به دوي بياوكولاي شي چي خپلي اړيكي په افغانستان كي دخپلو پيروانوسره وساتي . داچي دازبكستان كمونستي مشرانوويلي دي چي دهغوددويادري سووزرو ازبكو اوتركمنوچي په افغانستان كي ژوندلري دسرنوشت په هكله بې برخې پاتي كيداي نشي دادازبكو كمونستانوددسيسو اودافغانستان په كورنيوچاروكي دلاس وهني بل ثبوت دي .

سياسي تاريخ پوهان ښه خبردي چي دافغانستان مسلمان ولس خپلو مسلمانو ازبكواوتركمنوورونواوخويندو ته د۱۹۱۷ كال نه راپه دي خوااومخصوصاً د۱۹۲۰ او۱۹۳۵ كلوپه منځ كي كله چي پردوي باندي دكمونستانو برغلونه پيل شول اودوي هستي اوژونديې دخاوروسره برابركړ،غيږه خلاصه كړه اودوي ته يې پرخپلي خاوري كي دهستوگني اجازت اوځاي وركړو . دوي په خپلي خوښي افغانستان ته راغلي او اوس زمونږدعقيدي اووطن وروڼه دي اودافغانستان نوروقومونوددوي سره هيڅكله دتبعيض څخه كارنه دي اخستي اودټولو حقوقو څخه يې برخورداره ساتلي دي. دافغانستان ازبكان نه بوازي دافغانستان په شمالي سيموكي دټولوځمكوخاوندان شوي دي بلكه په كابل اوپه نورو ښارونوكي لويو دكانواو دملي اوبين المللي تجارت په لرلواوكولوسره دوبروپيسواوجايدادونو خاوندان شول. په حكومتي چاروكي دوزارت ترچوكيوورسيدل. آياوطن پلورنكي جلالريومهاجرازبك نه دي چي په شاهي نظام ، دداودخان په جمهوري اودكمونستانوپه ټولو نظامونو كي بي دټول افغانستان دتجارت اومالي دوزارتونومقام درلود ؟ آياداافغانستان دنوروقومونولخوا دازبكوسره تبعيض طلبي وه چي رشيددوستم اوځني نورو تبعيض طلبوعناصروسره داپوچ او كرغيرن احساس اونظرپيداشوي او وايي چي دنوروقوموحق تريښولاندي شوي دي .

دافغانستان په پخواني اومعاصرتاريخ كي دافغانستان ټولو قومونو دورورۍ په چاپيريال كي گډژوند كړي او دمصيبتونو په دوران كي يې يودبل دناموس اودسردساتني دپاره داسي مرستي اوسربښندني وركړي دي چي دتبعيض طلبي په ضد اودورورولي په ملاتړپه بين المللي سويه يې ځلانده مثالونه بللي شو .

هرهغه څوك چي په افغانستان كي دننه يابهردهرقوم اوټبرڅخه چي وي او دبيلتون اوخداي مكره دافغانستان دخاوري دتجزيه كيدواحساس اوافكاررامنځته كړي هغه كه ازبك وي يايښتون اوكه تاجك هغه دغندلواودكركي وړدي اوبايد په سپك نظرورته وكتل شي . همداسي هرهغه څوك چي دپښتون ياتاجك اوازبك سپكاوي په ښكاره ياپه پټه يادښې اويادقلم له لاري كوي هغه بايدوپيژندل شي اودنوروالخواپه كركه ورته وكتل شي .

هو! دي كي شك نشته چي اوس په وطن كي سياسي حالات داندېښني وړدي اوگاونډي هيوادونه دخپلو سياسي گټو دخوندي كولو دپاره زمونږپه كورنيو چاروكي گوتي وهي اودابې هيلې دي چي په افغانستان كي دي يومضبوط او غښتلي مركزي حكومت جوړنشي . ددي مطلب دسرته رسولودپاره ځني دلي درشيددوستم سره هراړخيزي مرستي كوي .

دافغانستان دمجاهدينومشران او قومانداناني چي اوس دوطن واگي بې ترلاسه كړي دي بايد چي خپل ماغزه په دغودسيسواوتوطيوپوه كړي اوپه هيڅ وجهي سره ددښمن دجاسوسانوسره كه رشيددوستم وي ياهرپرچمي اوخلقي چي دمقدس جهادپه ځوارلسوكلو كي پيژندل شوي وي اووطن ته يې زيان رسيدلي وي داسي نژدېوالي اواړيكي ونه ساتي چي دوطن ملي خپلواكي كمزوري كړي. دسياسي مصلحت دپاره ددښمن سره خبري اومركي كول مجازدي مكردښمن ته دقهرماني لقب وركول اوپرهغه باوراواعتبار كول سترسياسي جرم اوخيانت دي اوتاريخ به خامخا خپل لوڅ اوبې باكه حكم پري وكړي .

دگرجستان حاكمي شوراپريكړه كړي چي دپخواني شوروي ټولي شتمني ضبطي كړي

دروسيي جمهوررئيس بوريس يلتسن ويلي دي چي روسيه به دگرجستان نه په بيله شوي سيمه ابخازياكي دخپلو اتباعو دساتني لپاره لازم اقدامات ترسره كړي .

هغه دغه گواښ دابخاز يادسيمي دگاگرادښاراودابخاز يانودجدائي غوښتونكودتحريك دمشرانوښارگودوتادېباري نه وروسته كړيدي دگرجستان مشرادواردشيوارد نادزي ويلي دي چي حكومت به نوموړي سيمي ته ۴۰ زره احتياطي عسكرواستوي .

همدارازدگرجستان حاكمي دولتي شوراويلي دي چي هغوي به په خپله خاوره كي دپخواني شوروي اتحاد ټوله شتمني ضبطه كړي .

برادرمحترم ودردمند(م . ع . ل)

از بورد پشاور

اسلام عليكم .

نامه ارسالي تان اگر چه ازحوصله يك مكتوب بيرون بوده وبه شكل مضمون درآمده است ،معهذا آنرا درستون نامه ها جادادیم .اميداست بعدازين بانامه هاي تازه وفشرده تان اداره شهادت راممنون بداريد. والسلام .

(اداره)

اردوي اسلامي! «ثبوت ولايت نجيب...»

...

درسال ۱۹۸۵ رژيم مزدور نجيب... دست به تشكيل قواي مليشه زد ومردمان لاوبالي وفاقد هرنوع اخلاق انساني رابراي اين دسته اختيارنمود . اين گروه را بادادن معاشات گزاف واختيارات بي نهايت (درقتل ، غارتگري وتجاوز به نواميس مردم) تشويق بهايستادگي دروقت جنگ نمود. چونكه روسها وغلامان آنها مي دانستند كه جنگ درمقابل مجاهدين كاري ساده وآسان نيست پس بايد قطعاتي ازاشخاص بي ناموس وشرف،باخته داشته باشند ، تادر وقت جنگ تاآخرين لحظه حيات بجنگند ودربدل آن هرچه بخواهند درمقابل مردم مظلوم انجام بدهند . نه مال كسي ازدستشان درامان باشد ونه ناموس كسي ، به هرچه دست يافتند و هرچه خواستند بكنند.

اين لشكر وحشي وخدا ناشناس درتمام ولايات جناياتي نابخشودني راانجام دادندكه تاريخ ومردم مسلمان ماهرگز فراموش نخواهد كرد، بطورمثال ميتوان ازجنايات آنها درولايات تخار- قندهار- ننگرهار- لوگر ...... يادنمود.

بافروپاشي اتحاد جماهيرشوروي ومسدود شدن همه درها بروي رژيم نجيب و نجيب وديگر كمونستها چاره بي جز اين نداشتند كه به مجاهدين تسليم شوندو خودرابه ملت بسپارند ، تاملت ومردم درباره آنها فيصله نمايند.

رژيم نجيب درين حال زاربودكه (سپه سالاراسلام ! كابل گيرك !) احمد شاه مسعود دست اخوت وبرادري رابه سركرده گان همان لشكر وحشي داده ويك ائتلاف نامقدس رابوجود آورد ، درين وقت تمام كمونستها ،خلقي ها، پرچمي ها، ماويستها ......) حيات دوباره يافتند وخون دربدنشان جريان پيداكرد.

كمونستهاي وطنفروش چون ببرك ، كشتمند ، مزدك ... كه در ائتلاف رهبري راهريك به نوبه خود بازي مي كنند ، كابل را ترك نموده وبه مزارشريف گريختند تادركابل دليلي وجود نداشته باشد (براي مسلمانان) كه كمونستها هم درحكومت باشوراي نظارشركت دارند، وازطرف ديگر بتوانند برنامه هاي خود را باخاطر آسوده تطبيق نمايند . ودركابل هم سخنگويان خودرابرجاگذاشتند . اگر چه نفر هاي ائتلاف دركابل دم ازعدم ائتلاف وحكومت اسلامي مي زنند ولي مصاحبه هاي كشتمند ومزدك بارادیو هاي جهان بهترين تصديق كننده اين سخن است بمجرد ورود مجاهدين از پشاور به كابل يكي بعدي ديگر كابل را بنابر دلايلي ترك گفتند ولي زبان حق نگشودند. ودرپاكستان ... به روزتيرنمودن پرداختند.

ازهمان روز هاي اول تاحال چندين بارجنگ بين مجاهدين ونيروي هاي كمونستي (ائتلافيها) درگرفت كه هر بار به وساطت مجاهدين آتش بس شد ويكي ازشروط آتش بس هميشه همين بودكه كمونستها ومليشه ها بايد خلع سلاح وقدرت شوند.

ولي بعد از چند لحظه (هردفعه) توسط نيروهاي ائتلاف آتش بس ردشده ... ودرباره مليشه هامي گفتندكه اينها مليشه ها نه بلكه جزء اردوي اسلامي هستند .

ميتوان ازمصاحبه هاي رباني ولغرابي وغيره ياد آورشدكه آنها وديگر ائتلافيون مي گويند اصلاً مليشه بي وجود ندارد ، اين تمام نيروها جزء اردوي اسلامي است. نمي دانيم كه رباني صاحب ولغرابي چطور سنددكتورا رابدست آورده اند! آنها كه مليشه هاي كافر وفاسق رااردوي اسلامي ناميده ودم ازمحاكمه نجيب گاومي زنند (درين شك نيست كه بايد همه سران احزاب كمونستي محاكمه شوند) نمي دانيم درآن لحظات به هوش مي باشند وياخير؟ باني ومؤسس همين اردوي اسلامي ! نجيب است وياكسي ديگري !

پس چطور ممكن است آن خائن وملحد سبب تقويه اسلام ومسلمين گردد ؟ آيا اين ممكن است كمونستها ، خاديستها ومليشه ها جزء اردوي اسلامي شوند ،پس نجيب گاو كسيكه مؤسس وباني اين همه گروهها بود بدون شك (طبق گفتار پروفيسوران) ولي بي ازاوليا، خداوند است . العياذ بالله .

####

برادرعزيز ش . احمد زي ازحيات آباد پشاور السلام عليكم :

چون مكتوب تان ازحوصله ستون نامه ها سنگين ترمينمود ، آنرا خلاصه نموده نشركرديم . به اميدنامه هاي مختصرتان .

والسلام.

نفرت ازكلمه مسعود

